مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ضیاءالاسلام شېرزاني
۲۰۱۸/۱۰/۱۲

# دا عمر دی!



په عمر باندې ممکن مور او پلار يې محمد عمر, عمرالدين, عمرجان, عمرخان او يا عمرګل نوم اېښى وي، خو لکه څرنګه چې د افغانانو دود ده ډېرى نومونه را لنډوي (اختصاروی) يې نو ځکه نوموړى اوس هم ټول کليوال د عمر په نامه پيژني.
د عمر پلار خان او نيکه يې ګلدنګ نوميده.
ګلدنګ په ځواني کې خورا غښتلى او ښه نښه ويښتونکى وه پخوانيو وختونو کې کله چې د کوچيانو تجارتي قافلې کرمان ته تللې او په لاره به له ياغي سيمو څخه تيريدلې، ډيريو کسانو به هڅه کوله چې د خپلې قافلې اوښان د ګلدنګ له قافلې سره يو ځاى کړي. ګلدنګ به تل د قافلو د بدرګو مير وه نو له دې کبله به د دوى قافلې له ياغي سيمو څخه په امن تيريدلې، دا ځکه چې ډيرى د غلو او داړه مارانو مشرانو چندان د ګلدنګ د قافلې مخه نه نيوله او همدارنګه کله چې به د وچکالى په کلونو کې د کندهار او هلمند سيمو د کوچيانو رمې(ميږې) او ګلې (اوښان) مسکې ګردې ځنګله ته وړاندې تللې هلته به هم د بدرګو د مير دنده ګلدنګ ته ور په غاړه وه.
ګلدنګ ته په اخير عمر کې خداى (ج) يو زوى ورکړ چې نوم يې وربانذې خان کيښود کله چې خان زلمى شو هغه هم د نوې ځوانى په منګ په خپلو همزولو کې په هر کار کې وتلى او غښتلى وه نوځکه يې پلار د سيمې په کوچيانو کې ښکلې اونيشه پيغله ورته وغوښتله، دغه ښکلې او ښايسته پيغله خالداره نوميده خالداره، لکه څنګه چې يې نوم خالداره وه هغسې ښکلې هم وه.
له خان سره د ځوانى په اولو وختونو کې ځينو نا ځوانه ترېورانو ناروا او کينه را واخيستله او نوموړى يې په يو ناحقه او ناروا توطئه کې بند ته ور تيله کړ. نوموړى لس کاله د وخت په دهمزنګ زندان کې د تورو تمبو شاته تير کړل او پيغله يې د پلار په کور پاتې شوه په دې موده کې د خان پلار، مور او خسر دې واړه په حق ورسيدل او د خالدارې مشر ورور د خوارى او مزدورى لپاره پاکستان ته ولاړ، څو کاله يې احوال نه وه او نه يې هم کومه پته معلومه وه، ويل کيدل چې هلته د خرکارانو سره بندي دی.
دا چې په خان باندې په زندان کې څه تيريدل يو الله (ج) ته معلوم وو، خو دلته د خالدارې سپين سرې مور د خالدارې، د خالدارې وړوکي ورور او خور ته يوه ګوله ډوډې په سوال او درويزه پيدا کوله
کله چې د خان د بند موده پوره شوه او را خلاص شو، د واده او د کور د جوړولو بندو بس يې وکړ. خان وکړاى شول چې په لنډه موده کې خپل ژوند بيرته برابر کړي کله چې د ثور د کودتا په خلاف مسلحانه قيام پيل شو خان هم د جهاد د پياوړتيا په خاطر سنګر ته ور ودانګل د ۱۳۵۸ کال د اسد په مياشت کې کله چې حکومتي قوه د غزني ولايت اړوند د واغظ او ترګان سيمو ته د عملياتو لپاره ور وتلې وه د قوې په ليدو سره مجاهدينو وروسته تګ غوره کړ (البته د ټولو تنظيمونو ګډه جبهه وه چې نوې تشکيل شوې وه) خو خان مقاومت ته دوام ورکړ او په نورو سنګرو يې هم اواز وکړ چې تاسو خو ويل چې جنت دې، نو اوس ولې له جنت څخه تښتئ؟
د خان دا ناري به د وخت د ژونديو مجاهدينو په ياد وي چې(هلئ ژر کوئ مخ پرې را واړوئ مه يې پريږدئ ) خان تر هغو خپل سنګر خالي نګړ تر څو شهيد شو. خان شهيد شو خو د ټولې قوې مخه يې تر هغه ډب کړې وه تر څو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له یوې خوا د ده ملګري مجاهدین پناه ځایونو ته ورسیدل او له بل لوري په قوې دومره ناوخته شو چې نور یې د وړاندې تګ جرأت ونکړ او د خان جسد یې له ځان سره یوړ او په یو نا معلوم ځای کې یې تر خاورو لاندې کړ.
خالدارې ته واړه یتیمان ورپاتې شول دوه لونې او زوی (عمر) په خورا غریبۍ او زړه چاودې یې را لوی کړل.
نجونې پیغلې شوې چې په هغوی کې یې یوه د عمر په بدل ورکړه خو د خالدارې به همدا قسمت وه چې د خپل نیازبین او یواځیني زوی د واده خوشحالي یې ونه لیده او د عمر تر واده مخکې له یوې دنیا ارمانونوسره له فاني دنیا نه پناه شوه.
عمر چې د دنیا ټولې ناخوالې لیدلې وې اوس یې نو هغه ځوک چې د ده لپاره هم مور وه هم پلار له لاسه ورکړ، د مور غم یې دومره درووند وه چې عمر خپل دماغي توازن له لاسه ورکړ او مکمل لیونی شو. بیا د ځینو مهربانه کلیوالو لخوا د ډاکټر تر تداوۍ لاندې ونیول شو.
نوموړی که څه هم اوس له هغې جدي ناروغۍ ښه شوی دی، خو د خوارۍ او غریبۍ جوګه نه ده .
عمر اوس یو ډنګر بایسکل لري چې هغه هم کوم چا ورکړی، د سوارلۍ وړ نه ده یواځې د عمر د ساعت تیرۍ او خوشحالۍ یوه وسیله شوی ده.
نور نو که چا کومه شپه خوراک ورته راوړ ښه تر ښه کنه نو ډیری شپې له اولادو سره نهار (وږی) ویده کیږي دا ځکه چې د ده ګاونډیان هم غریبان دي او اکثره یې په روز مزدورۍ ګذاره کوي.
نو زما په لمړی قدم کې د غزني ولایت د متدینو سرمایه دارانو څخه هیله ده چې د خپل توان په کچه له عمر سره مرسته وکړي او په دوهم قدم کې مې د مجاهدینو له مشرانو اوله هغو کسانو څخه هیله ده چې اوس هم د خان شهید او نورو شهیدانو د وینو له برکته په دولت کې غوښینه ونډه لري او اویا په دې نامه ځانته امتیازات غواړي .
زما غوښتنه له دغو جهادي مشرانو څخه دا ده چې د جهاد د شهیدانو ورثه هیره نه کړي، د خان شهید اولادونو ته لاس ورکړي او له عمر سره مرسته ونه سپموي ترڅو دغه بیوزله لویدلی انسان له ځمکې څخه راپورته شي.
موږ د دې هدف لپاره له یوه متدین وطنوال څخه غوښتنه وکړه ترڅو د عمر د ادرس د معلومولو لپاره نوموړي ته یو ګرځنده مبایل ور واخلي، عمر د مبایل په استعمال نه پوهیږي اوس یې یواځې د اوکې تڼۍ دکیکاږلو چل زده کړې دی.
د عمر بشپړ ادرس دا دی:
د غزني ولایت مرکز، د ښار ختیځ لور ته د علي لالا کلی دی، دې کلي ته څېرمه د کوچیانو په څو سپیرو او په خاورو خړو کیږدیو کې د عمر جونګړه هم ولاړه ده.
مبایل نمبر :۰۷۰۷۶۶۳٤۰۶
د اړتیا په صورت کې د عمر د ادرس د پیدا کولو لپاره دا شمیره ۰۷۹۵۵۰۹۱۱۵ ستاسو سره مرسته کولای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ